د سمسور ویب پاڼې پنځم کلیزه په ویاړ

# دمتلونو کیسې

## او نور معلومات

## علم گل سحر

۱۳۸۷ دوري میاشت

Download from:aghalibrary.com

# دا نیمګړې هڅه

په ۱۳۸۱ کال کې چې کله په کابل کې دازادي راډیو تعلیمي خپرونې پیل کیدې نو زه یې هم له بي بي سي راډیو څخه را وغوښتم څو یوه داسې خپرونه چې په نورو راډیوګانو کې نه وي ،وچلوم.البته دراډیو په مرکزي دفتر کې هم مسولین نه پوهیدل چې دا به څه ډول خپرونه وي ، ما د استاد اسدالله غضنفر په مشوره دخپرونې لپاره پلان جوړ کړ ،چې دفتر ومانه.
په دغه پلان کې دنورو مختلفو ُفولکلوریکو او تاریخي مطالبو تر څنګ دمتلونو دکیسو خپرول هم په پام کې نیول شوي ول.په دې لړ کې مې د داسې متلونو کیسې هم دراډیو لپاره ثبت کړې چې لاتراوسه ډیرو دا متلونه لا اوریدلي نه ول. وروسته وروسته مې ځینې دغه کیسې په ځانګړې کتابچه کې هم لیکلې. ما ته څرګنده شوه چې څومره ډیر متلونه او دهغو کیسې شته چې باید را ټولې شي ، بیا مې نه یوازې دراډیو لپاره بلکې دیو کتاب په بڼه دچاپ لپاره راټولولې.
کله چې تکړه لیکوال او شاعر احمد تکل پراګ ته تبدیل شو دده ځاینا ستی له متلونو سره جوړ نه و، وروسته له هغه د متلونو کیسې په راډیو کې نه خپریدې خو ما به چې هر ځای دمتل کیسه واوریدله اویا به مې کوم نوی متل واورید دکیسې پوښتنه به مې یې کوله او هغه به مې لیکله.

په دې کتاب کې نه یوازې د متلونو کیسې بلکې د متلونو په اړه ځینې معلومات هم راټول شوي دي ، ځینې داسې متلونه ول چې یوازې په یوه یا څو سیمو کې رواج ول د دغسې متلونو د کیسو تر څنګ مې د ویلو دلامل او د سیمې په اړه هم معلومات لیکلي دي.

ما د متلونو د کیسو ځینې نور کتابونه هم په دې خاطر وکتل هسې نه چې د متلونو کیسې بیا ځلي چاپ شي ، ځینې لړې کیسې داسې هم وې چې په نورو کتابونو کې راغلې دي خو دا او هغه سره توپیر لري ، دغه کیسې د نورو روایتونو پر بنسټ ولاړې دي.

په دغو متلونو کې داسې متلونه هم ما را اخیستي چې په هغه ډول د تطبیق وړ نه دي د دغو متلونو د کیسو تر څنګ مې یې په اړه نوره څېړنه هم کړې د ه،له مختلیفو کسانو مې پوښتنې کړې او بیا یې د ردولو په اړه همخبرې شوې دي لکه:چې مور میره سي پلار پلندر سي یا ښه مه کړه بد نشته او ځینې نور چې کیدای شي په دوهم ټوک کې خپاره شي.

دغه کیسې زیاتره ما د نورو کسانو له خولې ثبت کړې دي ، له دغو ښاغلو او اغلو څخه په مننې سره یې یوازې دلته نومونه یادوم: پیرمحمد کاروان، ومان نیازی، حاجي مومند ، وحید خوستی، محمد ناصر ابراهیمزی، اسدالله جلالزی، اوالرحمن رودوال، محمدعمر ،فرحناز خروټې ،مرضیه امین، محمد ایوب ابراهیمزی، مخلص، ډاکتر جمعه خان وطنیار، حاجي دادمحمد شلګری...

Download from:aghalibrary.com

له ډیرو قدرمنو لیکوالو او ښیږونکو بسم الله حقمل او محمد نبي صلاحي څخه دزړه له کومي مننه کوم چې
په دې کتاب یې ښیرنیزې سریزې ولیکلې د حقمل صاحب د مینې او اخلاص پوروړی یم ، که د ده هڅونه او
زیار نه وای دا کتاب به ترتاسې نه وو رسیدلی.
د متلونو کیسې او د متلونو په اړه ښیرنه ډیر وخت او کار ته اړتیا لري ،هیله ده دا نیمګړې هڅه د دې لامل
شي چې زموږ نور هیوادوال په ځانګړې توګه لیکوال په دې برخه کې نورې ښیرنې وکړي په تیره پښتو
سیمو کې دا سې متلونه او د هغو کیسې راټولې کړي چې لا تر اوسه د نورو سیمو خلکو اوریدلې هم نه دي.
زه د دغې لړۍ د نورو کتابونو د لیکلو په برخه کې ستا سې مرستو ته سترګې په لاره یم.
په مینه او درنښت
علم ګل سحر
د۱۳۸۷ دوري ۲۱ نیټه
کابل - ارګ

**Download from:aghalibrary.com**

# د سحر نوی ادبي سوغات

خوږه پښتو ژبه د پښتني فولکلور له پلوه یوه دومره بډایه او شتمنه ژبه ده چې په سیمه کې يې ساري نه لیدل کیږي. په پوره ډاډ سره ویلی شو چې د افغانستان په دننه او ګاونډ کې بله هیڅ ژبه د پښتو په پیمانه غني او بډای فولکلوري نه لري.

پښتو متلونه، پښتني اصطلاح ګانې او غوره ویناوې زیاتره د یوې علمي معقولې حیثیت لري چې د اجتماعي ساینس په ډګر کې د خبرو اترو په ترڅ کې د بیان د تایید او د خپلو خبرو د ښکلا په منظور ویل کیږي او یو جامع او هر اړخیز مفهوم افاده کوي.

دغه پخې خبرې خپل ادبي چوکاټ لري او زیاتره متلونه قافیه لري او په همدې اساس باندې له ادبي اصطلاح او غوره ویناوو را بیلیږي لکه:

ماچې د خاوو مړي لیدلي د ما کور غړي وتلي

دغه متل چې د متلونو په دغه ټولګه کې راوړل شوی دی موږ ته د پکتیا ولایت په زرمل کې د جنګونو یو پخوانی منظر وړاندې کوي چې له نویو جنګونو نه د پرهیز کولو او کرکې مفهوم افاده کوي او خلک په

Download from:aghalibrary.com

روغه جوړه کې ګډه ژوند ،هوسا او نیکمرغه حالت ته رابولي.
ددغو متلونو په اهمیت خپل او پردي دواړه ډیر ښه پوهیږي خپل یې سینه په سینه او خوله په خوله له یوه نسل نه بل ته لیږدوي او پردي د پښتو متلونو د زده کړې او پوهیدو په منظور د پښتو ژبې زده کولو ته هڅیږي یوه ځوان جرمني پوه په خپله یوه پښتو مرکه داسې ویلي دي: (د نړۍ په 35 ژبو کې چې تر اوسه پورې مایا دې کړې دي پښتو په ټولو کې خوږه ژبه ده کوم څه چې زه د پښتو ژبې زده کړې ته وهڅولم هغه د پښتو متلونه وو پښتانه قانون او خاص ارزښتونه لري ځکه پر ما ګران دي) فرانسوي پوه ډار مستټر(د پښتونخوا د شعرهار او بهار )نومي نامتو اثر په سریزه کې یو ځای داسې کښلي دي:
((پښتانه ورځپاڼې او اخبارونه نه لري او ددوی ولسي سندرې د ورځپاڼو او اخبارونو حیثیت لري ))
ددغې خبرې پر بنسټ ویلی شو چې د پښتنو هر متل د یوه پرانستي کتاب مقام لري او په همدومره اندازه له تاریخي او ادبي اهمیت او ارزښت نه ډک دی.
د افغانستان نوښتګر شاعراو ډیر لیکونکی لیکوال محترم علم ګل سحر ته د زړه له کومې کوروداني وایم چې د پښتو متلونو د کیسو لومړی ټوک یې د چاپ لپاره چمتو کړی او په دغه اثر کې داسې متلونه هم راغونډ شوي چې د لومړي ځل لپاره یې د پښتنو له غرو ، کلیو او باندو نه د لیکلي ادب ډګر ته راکوز کړي دي.

**Download from:aghalibrary.com**

د پښتني فرهنګ د لا ښیرا زۍ او سمسورتیا په هیله دغه لیکنه پای ته رسوم او لیکوال ته د پسرلي د خوشبویه ګلانو د سهارني نسیم دمستو او وریښمنو وږمو په بدرګه یو وار بیا مبارک باد او شا بسی وایم په قلم او همت دې برکت او په مخې دې زیږي ګلونه.

په اد

ستاسو ورور

**محمد نبي صلاحي**

کابل---نوی ښار

1387\1\22

**Download from:aghalibrary.com**

# د متلونو کیسې

متلونه د ټولنې د اوسېدونکو د کلونو کلونو تجربو محصول دی، هغوی چې د خپل ژوند په اوږدو کې له تودو سړو او د ژوند له خوږو ترخو سره مخامخ شوي دي، خپلې تجربې یې د متلونو په بڼه راتلونکو نسلونو ته انتقال کړې دي.

تر وژلي وروړ پرې ایښی ګومل ښه ده هم له همداسې متلونو څخه ګڼل شوی دی، د دغه متل په باب دوه بېلا ،بېلې کیسې موجودې دي. د متل کیسې به وروسته راشي اول به ګومل وپېژنو

ګومل د پکتیکا په ولایت کې دیوې غرنۍ ولسوالۍ نوم دی، ځکه ګومل ورته وایي، چې داسیمه له یو شمېر کوچنیو شیلو او خوړونو څخه جوړ شوی یو لوی خوړ دی، په دې خوړ کې به ډېرې اوبه راتلې، تلونکي مسافر به داوبو د ډېرېدو له امله شل شپې او یوه میاشت دلته مېشته وو ،بیا به، چې اوبه کمې شوې، خلک به پرې تېرېدل. په کتوازکې په دې اړه یو بل متل هم شته، چې وایي:

(( چې ګوملې یونه وړم وړې شیلې اووړې ویالې مې نه شي وړلای ))

تروژلي وروړ پرې ایښی ګومل ښه ده، د متل په باره کې یوه کیسه داسې ده :

Download from:aghalibrary.com

ویل کیږي، دګوملې په سیمه کې دوه ورونه په یوه ښکلې نجلۍ مین شول، دوی دواړو هریوه کوشش کاوه، چې له نجلۍ سره واده وکړي، د دواړو ترمنځ اختلافات زیات شول، آن غرونو ته وختل او یو پر بل یې دوسلو ډزې وکړې، په پای کې مشر ورور وویل، چې تردې چې خپل ورور وژنم دا به ښه وي، چې ګومل پربږدم. ډېر خلک وایي، چې ددغې ښځې نوم ګومل و، خو ځینې بیا ددغه متل رامنځ ته کېدل په ګومله کې داوبو له امله موجود خطرونه بولي وایي:

(په ګومله کې به پخوا اوبه ډېرې زیاتې وې او دشاوخوا سیمو عبوري کوچیانو، سلیمان خېلو، دفتانېو، اندړو، احمدزیو او نورو به پاکستان او افغانستان ته تګ راتګ کاوو، نو کله به، چې په دې لاره تېرېدل، نو دې اوبو به خلک او څاروي وړل او غرقول به یې. دیوې کورنۍ څو تنه غړي په دې اوبو کې غرق شوي وو، نو هغه پرېکړه وکړه، چې نور په دې لاره ولاړ نه شي او په خپله مېنه کې مېشت شوي وو، چا ورته ویلي و، چې ته سږ کال ولې کډه نه باروې، نو ده ورته ویلي و، چې(تروژلي ورور پرې اېښی ګومل ښه دی).

Download from:aghalibrary.com

# ښه وکړه په دریاب کې یې واچوه

( ښه وکړه دریاب ته یې واچوه ) د پښتو ژبې له هغو روزنیزو متلونو څخه ګڼل کېږي، چې د دې ملت د پوهې، فرهنګ او حکمت ښه څرګندونه کوي.

په پخوا زمانو کې یو خیرخو او زړه سوانده سړی و ، ده به تل د سیند کبانو ته ډوډۍ وړه کوله او ورته اچوله به یې،ده به هره ورځ دا کار کاوه، ماهیان دده له غږ سره هم اشنا شول، زیاترو خلکو به په ده پورې خندل ، چې دالېونی ګوره تمامه ورځ د سیند په غاړه ناست وي او ماهیانو ته ډوډۍ اچوي، ده به ویل،چې ښه وکړه په دریاب کې یې واچوه، دورځو نه یوه ورځ لوی سېلاب راغی او د سیند اوبو دی له ځانه سره یو وړ، کله چې دی اوبو غرق کاوه، په دې وخت کې ده لویه چیغه وکړه، دا چې ماهیانو دده غږ پېژانده، نو ټول ماهیان راغلل او دی یې له ډوبېدو څخه وژغوره، له هغه وروسته دامتل رواج شو، چې ښه وکړه دریاب ته یې واچوه.

دغه متل نه یوازې پښتانه وایي،بلکې د مسلمانانو د فرهنګي حوزې په بېلا ،بېلو ژبو کې یې اوربدلی شو. د شیخ سعدي دابیت ،چې وایي:

Download from:aghalibrary.com

نیکي میکن و در دجله انازه
که ایزد دربیابانت دهد باز
هم په دري ژبه کې متل شوی دی.

چې بېګاته وي حیران
څه به وساتي فیلان

وايي، څوکسه طالبان د وخت د پاچا لیدو ته ورغلل، پاچا خبرې ورسره وکړې، په اخېرکې يې د نورو ډالیو او سوغاتونو سره یو فیل (هاتي ) هم ورکړ.

طالبانو په خوشحالۍ فیل راووست. دوی به ټوله ورځ په سبق کې بوخت وو ، بېګاته به يې څه ډوډۍ، چې راټوله کړه، ابله به يې خپلې خېټې پرې مړې کړې، څرنګه چې فیل ته خوراک نه رسېده، نو ورځ په ورځ ډنګرکېده، مرګ ته نږدې شو، طالبانو فیل بېرته پاچاته ور ووست ، پاچا حیران شو او پوښتنه يې ترې وکړه، چې ولې ؟

طالبانو په ډېر عذروویل، چې پاچاصاحب ستاډالۍ موږ ته د سر په سترګو قبوله ده، خو دفیلانو ساتل د طالبانو کار نه دی، موږ ایله ځانونه وساتو ، فیلان نه شو ساتلی، نو بیا يې دامتل ووایه: چې بېګاته وي حیران څه به وساتي فیلان

ځینې وايي چې دغه فیل امیر حبیب الله خان طالبانو ته ډالۍ کړی و.

Download from:aghalibrary.com

# دښايستې يو عيب نه عيب دی

يوه سړي زوی ته کوژده کوله، دکورمېرمنې بل کورته دنجلۍ دليدلو له پاره ولاړې، دنجلۍ په کور کې ددغو مېرمنو ډېر هرکلی وشو، ډول ډول خواږه يې ورته راوړل، چې بېرته راغلې، نو دهغه کور په صفت نه مړېدې، دهلک پلار د نجلۍ په باره کې پوښتنه وکړه، دهلک مور ځواب ورکړ، چې سمه د ځوارلمسې سپوږمۍ وه، ده بيا پوښتنه وکړه، چې څه عيب خوبه نه و پکې، مېرمنې يې وويل،چې نوره خو سپوږمۍ وه خو دمخې دوه غاښونه يې راوتلي و، ده بيا پوښتنه وکړه،چې نوره څنګه وه، دې ورته وويلوچې سترګې يې لږې کږې وې، نوره سپوږمۍ ده، ده بيا پوښتنه وکړه،چې تګ يې په لاره څنګه و؟ مېرمنې يې بيا وويل،چې لږه ګوډه ګوډه تله، نور خويې په ټول بدن کې دعيب ځای نه و، ده په نااميدۍ سره وويل، يعنې ګوډه وه؟

مېرمنې يې ژرځواب ورکړ سړيه :دښايستې يوعيب نه عيب دی.

ځينې خلک بيا دامتل داسې وايي،چې :دښايستې يوعيب دنهو عيبو برابروي.

Download from:aghalibrary.com

# شيخ فريده، چوپه خوله دې بهتره ده

وايي،چې شيخ فريد يو جاهل اوبې علمه سړی و، خو شکل يې برابرو او دشيخ او پير په شان معلومېده، ملګرو او دوستانو يې سلا او مشوره وکړه او له ده څخه يې پير جوړ کړ، دده څه نه و زده، ملګرويې ورته وويل،چې ته به څه نه وايې او خلکو ته يې وويل، چې شيخ فريد لوی عالم او بزرګ دی، دخلکو حاجت پوره کوي، دم او تعويذ په چوپه خوله کوي، خلک پرې رامات شول او دده ډېر قدر او عزت به يې کاوه.

يوه ورځ يې وويل،چې دا خلک په چوپه خوله په مادا سې مين دي، که زه خبرې ،وعظ او نصيحت شروع کړم، نو عزت او قدر به مې لازيات شي. دخپلو دوستانو له مشورې پرته يې يوه ورځ خپلو مريدانو او عقيدت مندانو يو لوی ټولي ته تقرير او خبرې شروع کړې، داسې خبرې يې کولې،چې دجاهلو خبرې هم ترې ښې وې، خلک يو يو ترې پاڅېدل، په دې وخت کې يې دوستان راغلل ،چې دی يې وليد ، په غوسه يې وويل:

چوپ چوپ کړه شيخ مزيده !<br>
چوپه خوله دې بهتره ده

Download from:aghalibrary.com

# هغه چرګې مړې شوې، چې د سرو زرو هګۍ به يې اچولې

پخوا له میلاد څخه څوسوه کاله د مخه په نړۍ کې دوه لويې امپراتورۍ وې،چې يوه يې د روم امپراتوري وه او بله يې د ایران د ساسانیانو امپراتوري وه. په هغه وخت کې د ایران امپراتوري ډېره قوي وه او یونان کوچنی هېواد و، دیونان پاچا فلیپ نومېده، فلیپ د مشهور سکندر پلار و، فیلپ به خپله کلنۍ مالیه ایران ته ورکوله، د ایران پاچا په یونان د سرو زرو د هغې چرګې نوم ایښی و، چې د سرو زرو هګۍ به يې اچوله، بیا چې فلیپ مړشو او سکندر په ۲۳ کلنی کې پاچا شو، نو د مالیې له ورکولو يې ډډه وکړه، د ایران پاچا ته يې لیک ولیکه په لیک کې یې لیکلي و، چې هغه چرګې مړې شوې،چې د سرو زرو هګۍ به يې اچولې، په دې مانا چې یو نان له دې وروسته ایران ته مالیه نه ورکوي.

په ځواب کې د ایران پاچا خسرو د دې له پاره، چې سکندر پوه کړي، نو ده ته يې یو توپ او ډنډه سره له ړندنو وروليږل، توپ او ډنډه په دې مانا ،چې ته لا تراوسه کوچنی يې، ستا د ساعتیري او لوبو وخت دی او ړدن په دې مانا ،چې د ایران پوځ شمېر ډېر زیات دی، دا پوځ به دی او دده پاچاهي تول له منځه یوسي، کله چې سکندر ته ورسېدل، سکندر ړدنو ته چرګې ورخوشې کړې، چرګو تول ړدن وخوړل، په ډنډه به يې توپ واهه او له هرځل وهلو سره به يې ویل، چې زه به له دې وروسته د ایران له حکومت سره داسې لوبې کوم.

# که ته کافر يې خو زما ځيګريې

وايي، پخوا به مسلمانان او کافران يو ځای اوسېدل ويل کيږي، چې هغه وخت يوه مسلمانه نجلۍ دلرګيو دراوړلو له پاره غره ته تللې وه، چې څو کافران راغلل او دا نجلۍ يې وتښتوله، دانجلۍ ډېره ښکلې وه، هلته يوه کافر واده ورسره وکړ، نجلۍ ډېره خواشينې وه، تښتېدلی هم نه شوه، ځکه هغوی به يوازې نه پرېښوده، په دې کې ډېره موده تېره شوه، د نجلۍ زوی وشو، کله چې يې ورونو او خپلوانو ته ځای ورمعلوم شو، ورغلل نجلۍ ته يې وويل، چې هله ژر کوه، چې ځو، نجلۍ خپل ماشوم زوی هم له زانګو څخه راواخېست، خو ورونو يې په کاوړاوغوسه وويل، چې دامه راخله دا هم کافردی، دې هم له وېرې راوانه خېست او له ورونو سره روانه شوه، چې څوګامه ولاړه، زوی يې نه هېرېده، بېرته يې ورمنډه کړه، خپل ماشوم زوی يې په غېږ کې راواخېست ويې ويل: که ته کافريې، زما ځيګريې.

# تربې عقل دوست هوښيار دښمن ښه دی

وايي،يو غل و، ده دپاچا داوسېدو دځای او ورسره خزانې درک لګولی و، ديوه لغم له لارې يې په ځوشپوکې ځان د پاچا ځای ته ورساوه، ويني،چې پاچا په خواږه خوب ويده دی، ساتونکي يې له وسلې سره ورته ولاړ دي،چې د پاچا او خزانې ساتنه وکړي. غل هم له لېرې څخه دا حالت ګوري، په پاچاباندې يو مچ ناست دی، مچ يې کله په سر، کله په مخ، کله په پوزه، کله په زړه کښېني.

پاچا په خوب کې ډېر سرګردانه معلومېږي، يوې بلې خواته لاس اچوي، ساتونکي سرتيري يې يوه غټه توره راواخېسته،چې دا مچ ،چې په پاچا کښېني ووژني ورته غلی دی، چې مچ کښيني او دی وار پرې وکړي، غل هم دا حالت ويني، بالاخېره مچ د پاچا په سرکښېني ،محافظ توره پرې پورته کوي، غله غږ پرې وکړ،چې مه کوه، په دې حالت پاچا له خوبه راويښېږي او له موضوع خبرېږي غل هم کيسه ورته کوي، غله پاچا د خپل ساتونکي له ګوزاره وساته، نو پاچاوايي،چې ساتونکی مې بې عقل دوست و او غل مې هوښيار دښمن، زما ژوند يې بچ کړ. بې عقل دوست نېږدې و، ماووژني، خو هوښيار دښمن وژغورلم، له هغه وروسته دامتل وشو،چې:

تر بې عقل دوست هوښيار دښمن ښه وي.

# چې جنګ سوړ شو ، میرې تود شو

دپښتو لنډیو په څېر، د پښتو متلونو د منځ ته راتلو ځای او وخت هم څرګند نه دی او نه یې هم ویونکي معلوم دي، خو( چې جنګ سوړ شو ، میرې تود شو ) هغه متل دی،چې د ځینو څېړونکو په اند یې دمنځ ته راتلو ځای معلوم دی.

ویل کیږي،چې دغه متل لومړی ځل دلوګر ولایت، د زرغون ښار په سیمه کې ویل شوی او بیا په نورو سیمو کې مشهور شوی دی. دمتل کیسیه داسې ده :

وایي،چې دلوګر، د زرغون ښار په سیمه کې څوکسو ختګرو په یوه کلي کې یوه کلا جوړوله، ددوی مشر ختګر یا بنا ، میرې نومېده، میرې به د کلا د دېوال پر سر ناست و او پخسه به یې وهله. دا نورو به له لاندې ختې ورکوله.

یوه ورځ ختګرو دوه ختکي واخېستل، د دوو ختګرو ترمنځ د ختکیو پر سر لانجه شوه، یوه ویل،چې لوی ختکی اوس خورو او دا بل ساتو او بیا یې له استاد ،یانې میري سره په ګډه خورو. خو بل ویل،چې غټ ختکی له هغه سره یو ځای خورو. ددوی دواړو جنګ شو ، میري چې د پخسې په جوړولو اوښوی کولو بوخت و ، دوی ته توجه نه کوله. یو بل لاروی راغی، ددغو دوو ختګرو ترمنځ یې روغه وکړه. تر دې جنګ وروسته د میري موضوع ته پام شو او په دې اړه یې پوښتنه وکړه، کله چې پوه شو پر ختکیو یې جنجال کړی دی، نو له پاسه یې په سپکو سپورو پیل وکړ او دواړه یې په ختو او لوټو وویشتل.

تر هغه وروسته دا متل عام شوی، چې وایي: جنګ سوړ شو ، میرې تود شو.

# زوی وروڼه به پرې شته کړي ، داخرت ځواب به څه کړي

وايي، په تېرو زمانو کې په يوه کلي کې دوه کسان اوسېدل، يو يې ډېر نېک سړی و ، خپل کار او روزګار به يې کاوه ، خولې به يې تويولې او روزي به يې ګټله، خو دده بل د اکازوی به هېڅ کار نه کاوه ، دی د کلي ملک هم و ، ده به له خلکو رشوتونه اخېستل او په حکومت کې به يې د هغو کارونه په پيسو خلاصول، په زور او ظلم به يې د نورو ځمکې ترې نيولې، چې په نتيجه کې ډېر شتمن شو او دا بل داکازوی ته به يې پيغور ورکاوه، چې زه دومره پيسې او ځمکې لرم، وروڼه او زامن به مې تل خانان وي او ته به تر مرګه دبل مزدوريې.

داکازوی يې ورته وويل،چې تاخو پيسې په کار او زيار نه دي پيدا کړې، په رشوتو دې پيدا کړې دي، په هغه دنيا به د خدای ځواب څه وايې، له هغه راوروسته بيا دا متل وشو ،چې : زوی وروڼه به پرې شته کړي ، د اخرت ځواب به څه کړي.

يعنې زامن او وروڼه خو به دې شتمن شي، خو داخرت ځواب به څنګه وايې، چې دا پيسې دې له کومه کړې دي.

# څه به دې په زړه کړم، چې ویر به دې پرې وکړم

په یوه زمانه کې یوه ښځه د خپل مېړه سره د ژوندون په جریان کې ډېره په زحمت او تکلیف وه، هغه دا ،چې همېشه به نوموړې ښځه دمېړه له خوا په مختلفو بهانو سره وهل او ټکول کېده او د ژوندانه په چارو کې به دمېړه له خوا هر وخت مداخله او لاس وهنه کېده، چې ښځې به مخالفت ورسره وکړ،نوبیا به دمېړه له خوا هغه وهل ټکول او بده ورځ وه، وخت همداسې تېرېده یوه ورځ د نوموړې مېړه مړ شو او په حق ورسېد. خو ښځې یې هېڅ غم او غوسه نه کوله او چې چابه ورته وویل،چې د مېړه په مړینه هېڅ غم نه کوې، دې به دا متل وایه، چې ( څه به دې په زړه کړم، چې ویر به دې پرې وکړم.
نو په دې توګه دا متل د خلکو په منځ کې رواج او خپور شو.

## زما مینځه پاپله د پاپلې مینځه بله

په پخوا زمانو کې، چې مریې او د مینځو رانیول او خرڅول رواج وه او د هغوی د کارونو د اجرا له پاره به مؤظف وه، نو یوه مینځه د پاپلې په نامه یادېده، چې هغې د خپل ځان هوساینې له پاره بیا د بلې ښځې نه د مینځې په توګه کار اخېست ، نو بیا پاپلې دا بله ښځه یوه ورځ په یوه کاروګمارله او هغې یعنې بابلې د خپل بادار په مخ کې په هغه بلې مینځې باندې امر وکړ په دې ځای د بادار له خوا ورته وویل شول، چې ( زما مینځه پاپله د پاپل مینځه بله ) او له هغه را په دې خوا دا متل رواج شو.

## هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشې

تاروجبه د پېښور او نوښار د ښارونو ترمنځ یوه سیمه ده ویل کیږي، چې پخوا به تجارتي مالونه په غیر قانوني ډول قاچاق کېدل. د قاچاقي مالونو د بدلولو او تسلیمولو وروستی ځای همدا تاروجبه وه، قاچاق وړونکي به له غرنیو او سختو لارو څخه دې سیمې ته رسېدل او دا هم حتمي وه، چې خپل قاچاقي

مالونه دې سیمې ته راورسوي، وایي کوم وخت په کومه تلاشي کې د چا مالونه ورک شوي یا لږ شوي ول، د مالونو خاوند نه پوهېده، چې څومره مال یې ضایع شوی دی، د لارې ملګري یې ورته وویل، چې:

هله به خبرشي، چې تاروجبې ته ورشي، یعنې هلته به درته معلومه شي. له هغه وخته دا متل مشهور شو، چې وایي: هله به خبرشې، چې تاروجبې له ورشې.

## هله به خبر شې چې تالوژبې ته ورشې ((۲))

ځینې وایي، چې دامتل اصلاً داسې دی، هله به خبر شې، چې تالو ژبې ته ورشي، د پښتونستان او په تېره د پېښور او شاوخوا سیمو خلک زیاتره ژبه جبه تلفظ کوي. په دې متل کې د مرګ خواته اشاره ده، یعنې د مړینې په وخت کې تالو بندشي او له ژبې سره ونښلي، یعنې داچې هرڅوک د خپلو اعمالو جوابګوی دی، نو دامتل داسې ویل کیږي، هله به خبر شې چې تالو ژبې ته ورشي.

کېدای شي دا متل نورې معناوې هم ولري، خو دا وروستۍ معنايې ماته سمه ښکاري.

له خوارۍ په ژرنده کې ناست وي
له کبره مزد نه اخلي

وايي، چې غريب سړي به په يوه اوبل ځای کې خواري او مزدوري کوله په پای کې په يوه ژرنده کې مزدورشو، د خلکو غنم به يې اوړه کول، کله به يې، چې د چا غنم اوړه کړل، نو مزد به يې ترې نه اخېست.

لږ مزد اخېستل ورته شوم برېښېده، د غنمو خاوندانو ته به يې ويل خير دی مه يې راکوئ، ټوله ورځ به يې ژرنده وکړه، خو ګټه به يې نه وه، کله چې د ژرندې خاوند خبر شو، نو دی يې له مزدورۍ لېرې کړ، يوه ورځ د ژرندې له مالک نه چا پوښتنه وکړه، چې هغه ژرنده ګړی دې ولې لېرې کړ؟ ده ورته وويل، چې ما خو ورسره ښه کړي و، په کارمې لګولی و، خو دی دومره کبرجن و، چې له چا به يې مزد نه اخېست، ځان يې هم خوار کړ زه يې هم.

له هغه وروسته دا متل وشو، چې:

له خوارۍ ژرنده کوي - له کبره يا له مستۍ مزد نه اخلي.

# خدای چې څه کړي هغه به کړي

یو سړی د ببرې ونې لاندې ناست و ،چې لاندې راپربوتې ببرې یې ولیدلې زړه کې یې وویل،چې دخدای عجیبه قدرت دی، دببرې ونې ته وګوره څومره لویه ونه ده او څومره وړه مېوه نیسي، بل خوا یې د هندوانو بوټي ولیدل، نو ویې ویل،چې دا څومره کوچنی بوټی دی او څومره لویه مېوه کوي، په کارخو داوه ،چې هندوانې د ببرې په ونه کې وای او ببرې د هندوانې په بوټي کې وای، دی په همدې سوچونو کې و ،چې له پاسه دونې نه دده په سريوه ببره راولوېدله. واخ یې له خولې ووت او په هیبت یې یوې او بلې خواته وکتل، نو ویې ویل:

خدای چې څه کړي - هغه به کړي

که دا اوس د ببرې په ځای هندوانه وای نو څه حال به مې و.

# خدای چې څه کوي ښه کوي ((۲))

یو پاچا د مېوو بڼ ته ولاړ، په باغ کې ډول ډول مېوې وې، پاچا له باغوان څخه پوښتنه وکړه، دا څه سبب دی، چې د مېوو ونې د ډک بار له لاسه نسکورې وې، خو کله چې د حاصل او شکېدو وخت شي مېوې کمې وي؟ باغوان عرض وکړ، صاحب کله چې مېوه پخه شي نو زیاتره یې مرغۍ داغي کړي، نو ځکه روغه مېوه کمه وي.

په پاچا دا خبره بده ولګېده، سمدلاسه یې امر وکړ، چې ټولې مرغۍ ونیسئ، مرغۍ یې ټولې له منځه یووړې. دخدای کارونه و، داخل په باغ چینجي ولګېدل، یوه دانه مېوه هم ونه شوه، پاچا په ډېره غوسه پوښتنه وکړه، چې دا ولې؟

باغوان په ډېره عاجزۍ وویل: صاحب تاسې ټولې مرغۍ ونیولې نو چنجیو په باغ حمله وکړه، پخوا به چې چنجي پیدا شول مرغیو به وخوړل، اوس مرغۍ نشته نو ټولې مېوې چنجي وخوري، صاحبه خدای پاک په خپلو کارونو ښه پوهېږي، مرغیو به خپل قسمت خوړ، ولې چنجي یوه هم نه پرېږدي، پاچا په چورت کې شو، چې له باغه راووت نو ویې ویل: خدای چې څه کړي هغه ښه کړي.

په دې برخه کې نورې کیسې هم شته.

# ژرنده که دپلار ده هم په وار ده

وايي،چې په يوه کلي کې يوه ژرنده وه، خلکوبه په نوبت غنم پرې اوړه کول. بله ورځ ددوو کسو په وارجنجال شو، يوه ويل، زه د مخه راغلی يم ، اول نوبت زما ده، دابل ويل، زموږ په کور کې اوړه تمام شوي دي اول وار به زما وي. ددواړو په منځ کې جنګ جوړ شو.

يو دريم سړی راغی دواړو خپل خپل دلايل ورته وويل،يوه ويل، زه اول راغلی وم اول نوبت بايد زما وي ، دابل وويل،چې زه که وروسته هم راغلی يم اول وار به زما وي ځکه چې دا ژرنده زما پلار جوړه کړې ده.

دريم سړي ورته وويل،چې ځه بابا ، ژرنده که دپلار ده هم په وار ده.

# څول چې خوبونه کوي ، مېښې به نرکټې راوړي

دامتل هم یوه مشهوره کیسه لري،چې افغان مفکر او شاعر استاد ګل پاچا الفت دشعرپه ژبه بیان کړې ده،ددې کیسې په ځای د استاد الفت د(ویده ګوجر )شعردلته را خلم:

دسیند په غاړه په شنه ورشوکې
ګڼو ځنګلوکې په شنو دروکې
یو دوه ګوجرومېښې پوولې
هریوه خپلې مېښې روزلې
نه یې بل کارو،نه نور غمونه
نه ورسره و ، نور نور فکرونه
تمامه ورځ به دمېښو څارو
دشپې به هم لاوېښ او بیدارو
پس له څو روځو وخت دلنګون شو
پام دګوجرو زیات له پرون شو
څوک چې ساتونکي او نګهبان وي
یوساعت خوب یې، زیان او تاوان وي

هغه هېڅکله نه کړي خوبونه
غفلت لوی عیب دی له یوه شپونه
ګوجرو ځکه شپې رونولې
شپې یې په ویښه سبا کولې
خوب ډېر غالب شو په دوارو باندې
لکه غلیم چې هجوم وکاندې
یو تن خوب یوړ نصیب یې خوارو
هغه بل ویښ و ، بخت یې بیدارو
د دوارو مېښې وزبېږېدلې
سپوږمۍ او ستورو ورته کتلې
چې ویښ ګوجر کړې مېښ کټې ټولې
له خپلو مېښو لاندې راټولې
څه یې چې ټول کړه هغه یې خپل شوه
نرکټې واړه د هغه بل شوه
هغه چې ویښ شو سباله خوبه

ويې ليدل دا رنګه لوبه
تپوس يې وکړ له خپل ملګري
دا مې په برخه څه رسېدلي
دا سې قسمت ته خو حيراني ده
دا رنګه برخه نه اسماني ده
ملګري ووې چې خوب کوينه
مېښې يې نرنرکټې راوړينه
څوک چې پاسبان وي او کړي خوبونه
ورپسې جوړشي بيا متلونه

# دغومبر خولیه لوړې ، سردې مه خېژه له لړې

دغومبر خولۍ دپکتیا ولایت د زرملې د ولسوالۍ دروحاني بابا دزیارت خواته دغره لوړه څوکه ده، دزرمت خلک دغره دا لوړه څوکه د ( غومبر خولۍ ) بولي. ددغې څوکې په سر کې داوبو یو ډنډ شته ،چې شاوخوایې شنه ده، په زرمت کې داسې روایتونه هم شته،چې دا ډنډ د بدرۍ جمالې تالاب دی، وایي،چې بدرۍ جماله به له نورو ښاپېریو سره یوځای د جمعې په ورځ دلته راتله.

دا متل ځکه په دې څوکې پورې شوی دی،چې دا دغره ډېره لوړه څوکه ده، دپکتیا او شاوخوا ځینو ولایتونو څخه معلومېږي. دا چې دا څوکه ډېره لوړه ده، تل یو ګرځ یادوړې پرې پرتې وي او زیاتره وخت وریځو پټه کړې وي، آن کله کله چې وریځ هم نه وي، ددغې څوکې سر دګرځونو او دوړو له امله نه معلومېږي.

چې بیا خلکو دامتل پسې جوړکړی دی، کله چې کوم څوک تل له ستونزو او خواریو سره مخ وي، بیا نو خلک دا متل ورته وایي چې:

دغومبر خولیه لوړې ،سردې مه خېژه له لړې

# چې ډېرغواړي جنګونه هغه دوه کوي ودونه

دیوه سړي اولاد نه و ، چاورته وویل، چې بل واده وکړه، خو مور یې د دویم واده مخالفه وه، ورته ویل به یې، چې هرڅه الله کوي، د خدای په هرکار صبر اوشکر اېستل په کار دي، که ته بل واده وکړې، نو په کور کې به دې تل جنګونه وي، ځکه چې دوه بنې ګوزاره نه سره کوي او د بنو جنګونه مشهور دي.

خوده ونه منله او بل واده یې وکړ، څه وخت وروسته یې دښځو جنګونو زور واخېست، ټول پرې خبرشول دی به حیران و ،چې څه وکړي، یوه ورځ یې مورته وویل، دا څه په غم واوښتم، چاته پورته نه شم کتلی. موریې ورته وویل،بچیه !

چې ډېرغواړي جنګونه

هغه دوه کوي ودونه

تاهم داغوښتل، داجنګونه دې خوښ و ،که زما دې منلي وای ، نن به دې داحال نه و.

# ته خو دغوندېو وې، زه دې هم دغوندېوکړم

وايي،يوه کس دوه مېرمنې لرلې، نو تمامه ورځ به په غونډيو ناست و او سندرې به يې بللې،ځکه چې کورته د دوو مېرمنو د جنجالونو له امله نه شواى تللى.

يو بل کس،چې دى وليد ،چې تمامه ورځ په غونډى ناست وي او سندرې بولي، پوښتنه يې ترې وکړه.

ده په ځواب کې ورته وويل،چې زه يونېکمرغه سړى يم، دوه ښځې لرم، د کورټول کارونه دوى کوي او زه خپلې مزې چړچې کوم، دادى سندرې وايم.

دې بل کس هم بل واده وکړ، څو شپې وروسته يې د دوومېرمنو ترمنځ جګړې او جنجالونه پيل شول، خاوند يې ډېر په تنګ شو، بس ورځ به يې ټوله دغونډيو په سرونو تېره کړه او د غم سندرې به يې بللې، لومړى کس يې حال وپوښت، ده ورته وويل:

ته خو دغونډو وې، زه دې هم د غونډو کړم

ماويل ته رښتيا خوشحاله يې،رښتيا ،چې دوه مېرمنې دژوند خوشحالۍ وړې. له هغه وخته دامتل مشهور شو.

# دړیرې ښورولو وخت

ددې متل دکیسې په باره کې دوه نظره موجود دي،ځینې وایي چې داکیسه دسلطان محمود غزنوي په وخت کې پیښه شوې ده، خوځینې نور بیا وایي،چې دا کیسه دامیر عبدالرحمن خان په زمانه پورې اړه لري، ډېر خلک وروستۍ نظریه تائیدوي ،کیسه داسې ده: وایي،چې یوه شپه امیر عبدالرحمن خان په په بدلو جامو کې ښار ته ووت، په توره شپه کې له دریو تنو سره مخامخ شو، پوښتنه یې ترې وکړه، هغو ورته وویل،چې موږ غله یو او دغلا له پاره راوتلي یو ،پاچا ورته وویل چې زه هم درسره ملګری کېږم، غلو ورته وویل،چې موږ خو هریو ،یویو کمال لرو ،چې غلا کوو، ته څه کمال لرې؟

پاچا ورته وویل،چې اول تاسې ووایاست ،تاسې څه چلونه او کمالونه لرئ؟ یوه ورته وویل: زه چې په شپه کې څوک ووینم په سبایې پېژنم. دویم ورته وویل: زه دسپي د غپا په معنا پوهېږم،چې څه وایي. دریم غله ورته وویل: زه د غلا ځای ښه پېژنم.

بیا درې واړو له پاچا پوښتنه وکړه،چې ته څه کما ل لرې؟ پا چاروته وویل، که څوک په اعدام محکوم وي او زه ږیره وخوځوم، مجرمین له اعدامه خلاصیږي. غله خوشحاله شول ورته ویې ویل،چې موږ نن غواړو ،چې د پاچاخزانه غلا کړو، پاچا هم ورسره ملګری شو، دریم غله لاره ورته وښودله، دوی،چې دخزانې په خوا روان ول، سپي وغپل،پاچا دسپي دغپا په باره کې پوښتنه وکړه، دویم غله ورته وویل:

سپي په غېپا کې وايي ،چې دکورخاوند هم درسره دی، پاچا دمخه خپل کسان پوه کړي ول، کله چې خزانې ته ورسېدل، دحکومت کسانو ټول ونیول، غله یې زندان ته واچول ، پاچا خپلې پاچاهۍ ته راغی.

سبا پاچاغله راوغوښتل،محکمې دپاچا په مخ کې غله په اعدام محکوم کړل. لومړي غله،چې ویلي یې و ، زه چې په شپه کې څوک ووینم په سبایې پېژنم، پاچاته مخ ور واړاوه، ویې ویل: ( درېیرې خوځولو وخت دی ).

له هغه وروسته دا متل وشو.

# ما چې دخاوو مړي ليدلي ، زما کور غړي وتلي

دغه متل کابو اتيا کاله وړاندې د پکتيا په زرمت کې ويل شوی دی
خاوو په زرمل يا زرمت کې د يوې غونډۍ نوم دی چې د همدې غونډۍ په شاوخوا کې سخته جگړه پيښه شوه ، ځينې کسان وايي چې دا خپل منځي جگړه وه خو ډير بيا وايي چې دا جگړه د سيمې دخلکو او سقاوي لښکرو تر منځ پيښه شوه.
د سقاو حکومت غوښتل چې خلک بيعت ورکړي خو د زرمت خلکو بيعت او ماليه نه ورکوله ، چې بيا وروسته سقاوي ټوپکوال زرمت ته راغلل د زرملې ځوانانو هم دخاوو غونډۍ شاوخوا ورته ونيوله ، چې ددواړو خواوو تر منځ سخته جگړه پيل شوه په جگړه کې له دواړو خواوو ډير کسان ووژل شول د جگړې مړي څو ورځې په ميدان پا تې ول ، وايي کوم سړی دې غونډۍ ته ورغلی و ، دلته يې مړي ليدلي ول ، چې بيرته خپل کورته تللی و ، په کور ډير خواشينی و ډوډۍ نه خوړله چا ترې پوښتنه کړې وه ده ورته ويلي ول:
ما چې دخاوو مړي ليدلي زما کور غړي وتلي.
چې دده دا خبره وروسته ورو سته متل شوه

غړي په دوو معناوو کارول کیږي یو داچې غړي یو ډول پنډې پنډې ډوډۍ دي چې دډېرې په تیغنه یا تبخې اوه اته پاستې په غوړو کې پخوي بیا یا دښې شپې په شپه یا نورو خیراتونو کې جومات ته وړې هلته یې کلیوال او مسافر خوري دمړي کورته دعا کوي.

بل غړي یو ه استعاري جمله هم ده کله چې څوک دیوې سختې پیښې له امله ډېر هیجاني شی هم نو وایي چې غړي مې ووتل ددې متل په اړوند یې دواړه معناوې صدق کوي.

ویل کیږي دسقاو لښکرو دپکتیا په جګړه کې دهغه وخت له پرمختللو وسلو او ماشینګڼو هم کار اخیستی و. په دې باره کې ولسي سندرې هم شته لکه:

ملک دا اسلام دی ، دا سې حال به په چا وي عالمه

سقاو ظالم دی ماشینګڼ پرې چلوي عالمه

په دې برخه کې نورې سندرې او لنډۍ هم شته ، که خدای کول په نورو کتابونو کې به پرې پوره خبرې ولرو.

پوره ورک دې کړه، دوه کوره

دوه دوستان ول ، یوه ورځ یوه ته دپیسو ضرورت پیدا شو، نو له دابل دوست څخه یې پیسې وغوښتلې، دوست یې ورته وویل،چې سمه ده،زه به پیسې درکړم، خو دا پور بدشی دی، هسې نه،چې سبا زما او ستا ترمنځ زړه بدوالی پیدا نه شي. بل دوست وویل،چې نه داسې به نه کیږي لکه څنګه چې تاماته پیسې راکړې، زه به یې هم په خپل وخت تاته درسپارم، دوست یې پیسې له بله قرض کړې، ده ته یې

ورکړې. ډېر وخت پرې تېر شو ، پیسې یې نه ورکولې ، بیا یې ترې غوښتنه وکړه ، خو هغه ورنه کړې ، مجبور شو په حکومت کې عرض پرې وکړ ، دواړه څومیاشتې په حکومتي ادارو کې سرګردانه ول ، دواړو څه ، چې پیسې لرلې ، په رشوتونو او نورو مصارفو ځینې ولاړې ، وروسته له هغه دا متل وشو ، چې : پوره ورک دې کړل دوه کوره .

## چې ولاړ شي تر کابل ، خوی به راوړي هغه خپل

وايي په کندهار کې یو ډېر مالدار سړی و ، داسړی ډېر کنجوسه او شوم و ، نېک عمل یې هم نه درلود ، خلکو ته به یې هسې په هره خبره کې کنځلې کولې. دی په خپله سیمه کې د خپلو بدو عملونو له امله په تنګ شو ، نیت یې وکړ ، چې کابل ته ولاړ شي ، هم به له نورو بې غمه وي ، او هم به تجارت وکړي. خلک هم خوشحاله ول ، چې داسړی که کابل ته ولاړ شي ، خوی به یې ښه شي او په اصطلاح ښه سړی به ځینې جوړ شي ، بالاخره دی کابل ته ولاړ ، خو هلته یې هم ګوزاره ونه شوه ، وروسته له یو څه وخته بېرته خپل کلي ته ولاړ. خلک یې پوښتنې ته په دې هیله راغلل ، چې اوس به سم شوی وي ، خو دی هماغسې و ، خبرې او کړه وړه یې هم هغه پخواني و ، خلکو په خپلو منځو کې وویل ، چې ولاړ شي تر کابل ، خوی به راوړي هغه خپل. یا چې ولاړ شي تر کابله ، برخه به راوړي هغه خپله . له هغه وروسته دا متل مشهور شو .

# غزني يې غوښت خير يې نه غوښت

وايي په غزني کې به تل ډېرې واورې اورېدلې، واورې دومره ډېرې وې، چې خلکو به لارې او منډونه نه شواى په کې جوړولى، تر واورو لاندې به يې تونلونه اېستل او په تونل کې به له يوه کلي بل کلي يا دښار له يوې او بلې برخې ته تلل. ويل کيږي، چې يو ژمى په غزني کې واورې ونه اورېدلې، دغزني او سېدونکي ډېر وارخطاول، چې که واورې ونه شي فصلونه به يې له منځه ولاړ شي. نو خداى ته به يې سوالونه کول ،چې واورې واورې. داسې به يې نه ويل، چې دخير اورښت دې وشي په دې باره کې يو روايت دادى، چې له ژمي وروسته دورې (حمل )دمياشتې په نهمه په غزني دومره واوره واورېده، چې په نيمه ورځ کې يې ټول غزني غرق او ويجاړ کړ.

يوه تجربه لرونکي سپين ږيري تمامه شپه په خپله او خپلو اولادونو له خپلو بامونو څخه واوره پاکه کړه، دوى به دشپې دلاندي غوښې پخولې، په بام به يې خوړلې او واوره به يې وار په وار پاکوله. په غزني کې يوازې همدا کورنۍ پاتې شوه او نور ټول له منځه ولاړل. روايتونه وايي، چې په غزني کې يوازې همدغه سپين ږيرې خير ياد کړى و او بيا يې د واورو په پاکولو کې ډېر زيار اېستلى و، له هغه وروسته دامتل وشو ،چې غزني يې غوښت خير يې نه غوښت.

غزني، چې زرکاله پخوا دافغانستان پايتخت او داسيايو مهم ښارو، دپښتو ادب په نکلونو ،متلونو او فولکلورکې هم خاص ځاى لري.

# چې خوب وینم دعمر کلا په اوبوکې وینم

دزرمت ولسوالۍ په منځ کې یو رود (سیند ) بهیږي، چې دپکتیا ولایت له سید کرم څخه پیل کیږي او دغزني دسردې بند ته رسیږي او آن ځینې وختونه دغزني دولاړو اوبو په جهیل کې توئیږي په دغه رود کې په پسرلي کې سېلابونه راځي، چې زیاتره وخت له رود سره نږدې کلي او کورونه وړي.
دعمر کلا دزرمت په اوریاخېلو کې دمصطفی پله خواته یوه کلا وه، چې څو واره سېلاب یووړه. له سېلاب وروسته به یې بیا جوړه کړه، خوبل سېلاب به بیا یووړه، چې بیا وروسته دامتل پورې وشو، اوس چې څوک له خطر سره مخامخ وي، یا غواړي دیو ناشوني کار کولو ته ملاوتړي، بل څوک، چې دهغه کار عاقبت ښه نه ورته بریښي ،بیا نو ورته وایي: چې خوب وینم دعمر کلا په اوبو کې وینم

# سه ګانه د دوو ډولو ځای نه دی

د سه ګانې کلی د پکتیکا ولایت د کټواز په ولسوالۍ کې دی، دا کلی په یوه غونډۍ پروت دی.
وایي، چې یو وخت په دې کلي کې دوه ودونه و، یو ډول راوستی و. خو دابل هم ښایي ددې بل له قصده غبرګ ډولونه راغوښتي وي، د سه ګانې په کلي کې دوه ځایه ډولونو ته اتڼونه پیل شول، خو دا چې دا یو کوچنی کلی و او دیوې غونډۍ په سر جوړ شوی و، د دواړو ودونو د ډولونو اواز سره ګډېده او اتڼ چیانو به اتڼ نه شوای ورته کولی، اتڼ چیانو اتڼ بس کړ، ویې ویل، چې یو ډول باید وي، سه ګانه د دوو ډولونو ځای نه دی، له هغه وروسته دا متل وشو.
د کټواز یوه اوسېدونکي راته وویل چې دا متل اصلاً داسې شوی دی، چې په پخوا وختونو کې سه ګانه یو لوی او پراخ کلی و، شل جوماتونه یې لرل، چې خلک به نه په کې ځایېدل، دلته په کوم واده کې دوه ډولونه وو، خو د ډول غږ ټول کلي ته نه رسېده، هلته وویل شول، چې سه ګانه لوی کلی دی، باید زیات ډولونه وي، ترڅو یې اواز ټول کلي ته ورسیږي له هغه وروسته دا متل وشو، دا چې په دې باره کې کوم روایت صحیح دی اختلاف شته، خو ما چې دا کلی لیدلی کوچنی کلی دی او دیوې غونډۍ په سر پروت دی، ښایي لومړی روایت صحیح وي.

# زه دې په مړي ژاړم، ته مې په خوله پورې خاندې

وايي يو وخت په يوه کلي کې مړی شوی و ،دکلي ښځې دمړي کورته ولاړې او دمړي وير يې کاوو ،ټولو ژړل. په دې ټولو کې يوې مېرمنې، چې خوله يې کږه وه او پورتنۍ نيمه شونډه يې هم نه وه، ډېر ژړل، دمړي دکورنۍ مېرمنو ،چې ددغې ښځې ژړا وليدله،چې د ژړا په وخت کې به يې دخولې شکل لا خندنی شو ، په دې پورې به يې وخندل.کله چې ددغې ښځې ورته پام شو ،چې دمړي دکورنۍ ښځې په دې پورې خاندي، په غوسه شوه او له کوره ووتله، په دروازه کې يې ورته وويل، زه دې پهمړي ژاړم ته مې په خوله پورې خاندې.

له هغه وروسته دا متل رواج شو

درې متلونه

۱: شل به يې نه کړې.

۲: په هغه خره ،چې سپوريې هغه نه حسابوې.

۳: سپاره رانيسه، پياده مو خپل دي

په غزني کې دوه تاريخي منارونه ولاړ دي، داسې وايي، چې په پخوا زمانو کې دغزني دسلطانانو او پاچاهانو په وخت کې ديوې سيمې خلکو نيت و کړ، چې دا دوه منارونه راوړي او په خپل کلي کې يې ودروي، وايي، چې دوی شل نفره وو او په شلو خرو سپاره ول، دمنارونو په خوا يې حرکت راکړی دی، کله چې منار ته رانږدې شوي دي ، ويلي يې دي، چې راځئ چې دا خپل کسان حساب کړو ،موږ خو شل کسه را روان شوي وو ، دايو نفر،چې په خره سپوردی حساب يې کړی دی، ۱۹کسو ته يې رسولي دي، دابل ته يې ويلي دي، هغه هم په خره سپور و ، هغه هم نور ۱۹ حساب کړي دي، ځان يې نه دی حساب کړی، هرچابه چې حساب کاوه، نو په هغه خره به،چې سپور و ، نه به يې حسابا وه، نو يو متل له دې دا راپيدا شوی دی،چې په کوم خره ،چې سپوريې هغه نه حسابوې.
کله چې ټولو حساب کړی دی، نو اخري کس غږ پرې کړی دی،چې شل به يې نه کړې. دامتل په دې ډول رامنځ ته شوی دی.

کله چې دغزني د هغه وخت واکمن په دوی باندې خبر شوی دی،چې دا خلک دمنارونو دوړلو له پاره راغلي دي، نو ددوی په ناپوهی او جهالت پوه شوي دي، خپلو عسکرو ته يې ويلي دي،چې نورغرض مه ورسره کوئ، دلته يې راولئ، دوی يې راوستي دي، په يوه تياره غوندې کوټه کې يې کښېنولي دي. نو په پټنوسونو کې يې له توتو سره يو قسم خزنده ،چې ځينې خلک يې غوځاړي يا قانفوزک بولي تور رنګ

لري، دايې له تورو توتو سره ګډ کړي دي، پتنوسونه يې ،چې په ځمکه ايښي دي قانفوزک يا غوځاړي له پتنوس څخه تللي دي او يوې بلې خواته يې منډې کړې دي، نو دلته يوه نفر په بل غږ کړی دی،چې فلاني سواره رابګير، پياده ازماست، يعنې کوم توت،چې روان دي دا اول رانيسه دانور توت خو بې له هغه هم زموږ دي، دوی په دې هم نه پوهېدل،چې توت حرکت کوي که نه؟

وروسته دا متل په پښتو کې هم وشو ،چې سپاره رانيسه ،پياده مو خپل دي.

---

شپه د تنور هم تېرېږي،

شپه د سمور هم تېرېږي

بهلول،چې زياتره افغانان يې دغزني اوسېدونکي او دسلطان محمود غزنوي ورور بولي، دخپلې زمانې يو هوښيار او حاکم شخصيت و ، دده دځينو عاقلانه خبرو او کړنو په باب پښتو متلونه جوړشوي دي.

له داسې متلونو څخه يو هم دا متل دی:

شپه د تنور هم تېره شوه، شپه د سمور هم تېره شوه.

وايي،چې بهلول به دپاچاهۍ چندان پروا نه کوله، په ښار کې به دشپې دکوم تنور يا دېګدان ترڅنګ دغزني په ساړه ژمي کې څملاست.سلطان محمود غزنوي څو ځله ورته وويل،چې پاچاهي ماڼۍ ته راشې

او که نور څه نه وي شپه خو توده تېره کړي، خو بهلول نه منله، یوه شپه یې مجبور کړ، شاهي دربارته یې راوست، په هغه وخت کې به دپاچاهانو له پاره دسمور له پوست څخه ډېرې ښکلې او تودې کمپلې جوړېدلې،چې دخپل وخت ډېرې عصري او پرمختللې کمپلې او بړستنې بلل کېدلې. دسمور په نامه یادېدې،چې یوازې پاچاهانو به ترې ګټه اخېستله.

سلطان محمود غزنوي امروکړ،چې بهلول نن شپه په شاهي ماڼۍ کې ویده شي او دسمور کمپلې پرې واچوي. بهلول دانا په شاهي ماڼۍ کې دسمور په کمپلو کې شپه تېره کړه،سهار سلطان راغی، په دې هیله،چې بهلول به ډېر خوشحاله وي او په تېرو شپو،چې دتنورونو او دېګدانونو خواته یې په یخ کې سباکړې دي ډېر پښېمانه وي. سلطان له بهلول څخه پوښتنه وکړه،چې څنګه وه نن شپه ؟ښه خوب دې وکړ! بهلول ورته وویل، شپه دتنور هم تېره شوه، شپه دسمور هم تېره شوه.

له هغه وروسته دا متل عام شو چې:

شپه دتنور هم تېرېږي ، شپه دسمور هم تېرېږي.

# هرڅوك غوږلستوني ته ګوري

وايي،چې يوه ورځ بهلول په خوارو جامو کې ديوه واده مېلمستيا ته ورغی، په دروازه کې ولاړو کسانو بهلول ته په واده کې د ګډون اجازه ورنه کړه، ځکه دی خوار ورته ښکاره شو،بهلول بېرته خپل کورته ولاړ، دخوارو او شلېدلو جامو په ځای يې ډېرې قېمتي وربښمينې جامې واغوستې او دواده ځای ته بياورغی، دا وار يې بهلول ته په ډېر درناوي په مېلمستيا کې دګډون بلنه ورکړه، بهلول،چې په دسترخوان کښېناست، نو په ځای ددې،چې ګوله خولې ته يوسي، په لستوني به يې اچوله، حاضروخلکو يو بل ته وکتل او سره ويې ويل: دا لېونی څه کوي ؟بهلول ورته وويل: تاسې مه حيرانېږئ، دا ډوډۍ زما له پاره نه ده، زما دجامو له پاره ده، ځکه يې په جامو بايدوخورم، نو دامتل،چې وايي هرڅوک غوږلستوني ته ګوري ، له همدې اخېستل شوی دی.

## باران په مچلغووشو، خره يې دکلالګو يووړل

مچلغو دپکتيا ولايت دسيدکرم په ولسوالۍ کې يو سيمه ده او کلالګو دزرمت ولسوالي په لويديځه برخه کې يو لوی او ښکلی کلی دی،دزرمت په منځ کې،چې کوم رود تېرېږي،دسيد کرم او مچلغو له شاوخوا سيمو سرچينه اخلي او ددې سيمو اوبه زرملي ته ځي. وايي يو وخت په مچلغو سخت باران اورېدلی و،خو په زرمت او کلالګو کې اسمان شين و، باران نه و اورېدلی او ځمکې وچې وې، خو دمچلغو دباران له امله لوی سېلاب راغلی و او دکلالګو ځمکې باغونه او څاوري يې وړي ول، دمچلغو باران زرمت او کلالګو ته زيات زيانونه واړول.

هغه وخت دامتل وشو،چې وايي:

باران په مچلغو وشو،خره يې دکلالګو يووړل.

## زور قالب نه لري

يوه وري په وياله کې له لېوه لاندې خوا ته اوبه څښلې، لېوه وري ته وويل، ولې اوبه راخړوې، وري ورته وويل، زه خو ترتاکوزيم، له دې خوا اوبه نه خړېږي.

لېوه دوري د خوړلو له پاره هسې بهانې جوړولې بيا لېوه ورته وويل،چې تېره کال دې ولې ماته کنځا کولې. وري وويل، تېر کال زه زيږېدلی نه وم. لېوه ورته وويل،چې تېرکال ستا پلار کنځارا ته کړې وې، نو وری يې وخوړ. بيا دا متل وشو،چې زور قالب نه لري.

# دروازې تاته وایم دېواله ته واوره

دا متل په دې ډول هم ویل شوی دی (( وایم تاته په غوږ وربنداره وهم یا وایم تاته وربندار دې یې واوري )). هروخت،چې څوک ونه شي کولای دځینو عذرونو له امله خپله خبره چاته په مستقیم ډول وکړي، نو په کنایه او غیر مستقیم ډول یې بیانوي، څو نور پرې پوه نه شي.

ویل کیږي،چې دامتل اصلاً له یوې عربي جملې ( ایاک اعنی واسمعی یا جاره ) څخه اخېستل شوی دی،چې دمینې یوه په زړه پورې کیسه یې شاته پرته ده ، وایي،چې سهل بن مالک الغرازي له خپل وطنه دلقمان دلیدو له پاره روان شو، په لاره کې یوه کلي ته وروګرځېده، دقبیلې مشر د حارث بن لام طایي په نوم یو سړی و، دی دقبیلې دمشر کورته ورغی، هغه په کور کې نه و، خو دهغه خور،چې یوه ډېره ښکلې او پی مخې نجلۍ وه، سهل کورته بوت او دهغه یې ښه مېلمه پالنه وکړه، په دې وخت کې ناڅاپه سهل دهغې ښکلاته پام شو، دهغې ښکلاحیران کړ، پرې مین شو، نیت یې وکړ،چې نجلۍ ته مرکه ولیږي او واده ورسره وکړي، څوورځې هلته پاتې شو، یوه ورځ،چې نجلۍ په خپله کېږدۍ کې ناسته وه، سهل یو دمینې شعر بل چاته په خطاب کې ووایه،چې مفهوم یې دا و: اې خورې دیوه کلیوال ځوان حال دې څنګه ولید ،چې په یوه ښکلې نجلۍ یې زړه بایللی دی، تاته وایم ګاونډۍ مېرمنې ته واوره. کله چې نجلۍ دغه شعر واورېده، پوه شوه،چې مطلب یې داده، وایې ویل داخبره دیوه اوعاقل سړي نه ده او ښه نظر هم نه دی او دابیتونه یې هم وویل:

اناقول یافتی فزاره　　لا ابتغي الزواج ولا الدعاره
ولافراقاهل هذالمجاره　فارسل الی اهلک یا ستخاره

یانې زه تاته وایم اې فزاره ځوانه،چې نه خاوند غواړم نه دوست ، نه معشوق او نه غواړم له دې طایفې لېرې شم، نوځه روغ رمټ خپل کورته ستون شه. سهل وشرمېده ویې ویل: ماخو کوم داسې بدنیت نه درلود وشرمېده. وروسته سهل لقمان ته ورغی تصادفاً دنجلۍ ورور هم ،نجلۍ له دې چې دی یې تورن کړی و ، هلته و ، داچې سهل زړه ور اوښکلی ځوان و ، نجلۍ یو کس ور ولېږه،چې که ددې غوښتونکی وي ، واده دې ورسره وکړي، سهل له نجلۍ سره واده وکړ او بېرته خپلې سیمې ته راغی له هغه وخته دا مصرع (ایاک اعنی واسمعي یا جاره ) متل شوه.

---

## وایم تاته ورېنداره دې یې واوري

وایي په یوه کلي کې دوه ورونه او یوه خور اوسېدل،دوی واړه یتیمان پاتې شوي ول،چې لوی شول مشر ورور ته یې واده وکړ، څو میاشتې وروسته یې مشر ورور د خوارۍ مزدورۍ له پاره بل ملک ته ولاړ، خور او ورور خپله ورېنداره ډېره نازوله ورېنداره یې ورو ورو دټول کور واکمنه شوه او دکور په کارونو کې به یې هېڅ برخه نه اخېستله. ورور به یې هر کار خورته سپاره خور یې هم دکور کارونو ډېره ستړې کړې وه،

بله ورځ یې خپل ورور ته ګیله وکړه، چې ځوانه ناوې په کور کې شته، هغه هم باید کاروکړي، ته ولې دهر کارماته وایې.

ورور یې ورته وویل: وایم تاته په غوږ وربندار وهم ګوندې هغه پوه شي او په هغو کارونو پسې، چې تالېږم دایې وکړي. له هغه وروسته دا متل عام شو.

چې بادشي له غزني، غزني واورې اوروي

ددې متل په باره کې دوه روایتونه دي:

یوداچې دغزني دښاوخوا سیمو خلک وایي، چې پخوابه په غزني کې تل واورې اورېدلې او د واورو اورښت به دورېځو له مخې نه بلکې دبادونو له مخې خلکو اټکلا وو، چې کله به دغزني له خواباد راوالوت، نو خلکو به ویل، چې نن به حتماً واوره اوریږي.

ځینې بیاوایي دا، چې غزني یوه هواره سیمه ده، پخوابه واورې په کې ډېرې وې، نوبادونه به یې هم لرل کله به، چې باد شو، نو په ځمکه پرتې واورې به یې بادولې، دا واورې به داسې بادېدې، چې دواوروتر اورښت به زیاتې وې. نو ځکه هغه وخت دامتل وشو، چې بادشي له غزني غزني واورې اوروي.

ویل کیږي، پخوا به په غزني کې په ژمي دومره واورې وې، چې خلکو به دیو بل کورونو یا یوه بل کلي ته تر واورو لاندې تونلونه جوړول او دتونل له لارې به یوې بلې سیمې ته تلل.

# تربور له ځانه کم مه ګڼه یا سیال کم مه ګڼه له ځانه

دپښتویو پخوانی متل دی،ددې متل کیسه شاعر او لیکوال اسدالله بلهار جلالزي په نظم اړولې ده،چې دلته یې کټ مټ رااخلم. سیال کم مه ګڼه له ځانه.

داکیسه مې پخوا کړې اکاوه
زما په ذهن کې هرسحربېګا وه
وې کوچی و په نامه دمیر افغان
ډېر هوښیار و ډېر ځیرک و ښه کاردان
زماله پلار سره یې دوستي او اشنایي وه
رسېدلې ان تر حده د وروري وه
ډېر خوارډه وو، وه په یو اوبل به ګران
په مجلس به سره تل ناست وو خندان
زما پلار ته کوچي هسې حکایت که
ما له هغې ورځې له ځان سره عبرت که
وې خانه کبر څه دی غرور څه دی

داخوښۍ او خندا څه ده سرور څه دی
خانه ستاسو په مالت کې خلک وايي
په اتام باندې پښه ښودل نه ښايي
وايي دا د کبر غرور لويه علامه ده
چې ترپښو شو اتام ورځ يې چپه ده
دامنمه قدر د ېر لري اتام
ورته وکړو بايد موږ د ېر احترام
خو داواره چې دا کبر نه دی خانه
کبر دا دی چې سيال کم ګڼي له ځانه
د سيالانو احترام تل ساته خوندي
که خپل ځان ساتې د نورو له خندې
خانه غوږ شه چې کيسه د سکندر کړم
تا به زه په حال احوال د ده خبر کړم
د سکندر وو زيات پوځونه او لښکر
د ېر ملکونه يې کړل لاندې لر او بر

هم درلودې يې پيسې او سيم و زر
د اربدل ترې نه شاهان ډېر زورور
سکندر به چې حاضر وو په ميدان
نه وو چا سره د سېن ابستلو توان
اميران قوماندانان ترې د اربدل
د ده مخکې لکه پاڼې رېږېدل
يوه ورځ د سکندر په زړه کې ډېره
شوه د کلي مينه لاندې باندې تېره
وې يې ځمه د خاپوړو ځای مې ګورم
د خپل پلار او د نيکه سرای مې ګورم
ويې کړ امر چې لښکر دې شي تيار
زه ورځمه نن ترګوره د خپل پلار
درسره لښکر تيار شو سمدستي
لوی امير شو د خپل کور په خوا رهي
په قدم قدم ولاړې پرګنې وې

سکندر ته يې نيولې سرې غنچې وې
پېغلو نجونو عطرونه پرې پاشل
او ځوانانو لاګلونه پر شيندل
شاعرانو په شعرونو کې ستايل
هر هر څوک وو دده طبعې ته مايل
څوله دوی ځينې خپه نه شي امير
کنه شي به بنديوان بيا په ځنځير
سکندر چې وو په زړه باندې ملال
اوس د سيمې له دې خلکو شو خوشحال
چې خپل کلي ته ورلنډ شو اونږدې
ورته مخې ته يې راغله خپله ادې
کليوالو ته سکندر يو کليوال وو
په راتګ يې نه خپه او نه خوشال وو
ورسره لښکر يې هم ورته هېڅ شان وو
که هرڅو يې وزيران او سپاهيان وو

که آسونه که يې فيلان او که قوت وو
ورسره که دوژلو هم قدرت وو
خو تربور ته يې دا هرڅه خاروخس وو
په ظاهره که ناتوانه او بې وس وو
سکندر ته يې راوړاندې يو وزيرشو
وې يو عرض درته کوم لښکر دلګير شو
څه افت دی نازل شوی په دې کلي
دلوی مشر مخ ته هېڅوک نه راځغلي
په رڼو سترګو زموږ خواته راګوري
بې پروا تېر شي زموږ دځنګ له لوري
امر راکه چې زه دا سې دعبرت ورکړم
له نړۍ ورته دا ژر ژر رخصت ورکړم
سکندر شو په شونډانو کې موسکين
او تندی يې ترېخوا شو لاښه ورين
وې وزيره ځير شه زما دغه خبرته

دغه کلي دغه قام دغه ټبر ته
دومره پوه شه دا وګړي زموږ د کلي
ترښاغلي سکندر دي ډېر ښاغلي
خاپوړې دلته کړې سکندر دي
دوی هم غړي د دې قام د دې ټبر دي
سربه ټيټ نه کا تربور ته کوم تربور
ترسر کوزي ژوند مرګ ښه ګڼي ضرور
په ښکاره که وي کم وسه او مجبور
اندرون ګوره لېږي بيا ډېر غرور
که زما خبر منې راسره خانه
تربور هېڅ کله کم مه ګڼه له ځانه
زړه يې مه ازاروه واوره له مانه
دښمنۍ څخه يې لېږې ګرځه ګرانه

# دپیشو دوژلو وخت تېر دی

وايي دوه کسه ملګري ول، دیوه له خپلې مېرمنې سره ژوند سخت و ، تل به يې په کور کې شخړې وې، مېرمنې به يې دده خبره غوږ ته نه وروړه، دکور کارونه به ټول همداسې پاتې ول، خو دده بل ملګري له خپلې مېرمنې سره ښه ژوند درلود ، تل خوشحاله و ، مېرمنې يې دده خبرې منلې، لومړی ملګري به تل دا بل ته شکايت کاوه، خو ددويم به ورته ويل، زه چې خپلې مېرمنې ته سترګې ورواړوم، زما سترګو ته ګوري ، هر کار په خپل وخت سره کوي، لومړي ترې پوښتنه وکړه ،چې ستا دکاميابۍ راز په څه کې دی، چې مېرمن دې دومره درڅخه وېرېږي، له ما څخه خو هېڅ ويرېږي نه. دويم ورته وويل، چې ما دواده په لومړۍ شپه ددې له پاره،چې ښځه مې راڅخه وډاره شي، پيشو په توره ووهله ، دوه ځايه مې کړه،له هغې شپې راهيسې مې مېرمن فکر کوي،چې زه ډېر قهرجن سړی يم، که يې خبرونه منم، زما حال به هم دپشې په څېر وي، لومړي چې دا خبره واورېده له، کله چې کورته ولاړ، دمېرمنې ترمخ يې توره راواخېستله، پيشو يې په قهر سره پرې ووهله، مېرمنې يې پرې وخندل ورته ويې ويل: د پيشو دوژلو وخت تېر دی، اوس ماته معلوم شوی يې. يانې،چې خپل قهر او غوسه دې بايد په اوله ورځ ښودلې وای ، له هغې ورځې دا متل عام شو، چې:

د پښو دوژلو وخت تېر دی.

## د تبر خولې ته ليمڅی ورغلی

دوو کسو د ځمکې پر سر دعوا لرله ، يوه هم دغه ځمکه خپل ملکيت ګڼله او دا بل هم. خبره يې قاضي ته ورسيده ، لومړي کس قاضي ته وويل چې دا دځمکې موضوع زما په ګټه فيصله کړه زه به تا ته دلرګيو ما تولو لپاره ډېر ښه تبر در کړم ، قاضي ورته وويل سمه ده ، زه به فيصله ستا په ګټه وکړم.

چې دا سړی ولاړ ، دوهم کس راغی قاضي ته يې وويل چې زه ډېر ښکلی ليمڅی لرم ، د ځمکې موضوع زما په ګټه فيصله کړه دا ليمڅی به تاته درکړم قاضي له دغه سړي سره هم هوکړه وکړه.

کله چې دفيصلې په ورځ قاضي او خلک کيناستل ، خبرې پيل شوې هر يوه خپل خپل دلايل وويل ، نورو خلکو هم چا دلومړي چا ددوهم په ګټه خبرې وکړې ، د قاضي فيصله وځنډيده ، ځکه قاضي په دې کې دوه زړی و ، چې تبر ښه دی که ليمڅی؟ دکوم يوه په ګټه پريکړه وکړي.

لومړی کس په خپل وعده شوي رشوت ډاډه و ، پوهيده چې فيصله به دده په ګټه کيږي ، نو په کنا يه يې قاضي ته وويل:

قاضي صاحب ژر يې په تبر غوڅوه.

قاضي ورته وويل چې ته صبر چې د تبر خولې ته ليمڅی ور غلی د تبر خوله يې نيولې ده.

له هغه وروسته دا خبره متل شوه چې:
د تبر خولې ته ليمڅى ورغلى دى
د دغه متل د کيسې راوي افغان مشهور شاعراوليکوال ښاغلى پير محمد کاروان وايي چې دغه متل په خوست کې ويل شوى دى او دغه کيسه هم هلته تيره شوې ده ، په خوست پکتيا او نورو غرنيو سيمو کې له تبر څخه دلرګيو د غو ځولو او ماتولو لپاره ډير کار اخيستل کيږي او ليمڅي هم د نورو سيمو غوندې په خوست کې ډير رواج ول.اوس هم په ځينو کليو کې ليدل کيږي.

## که زموږ پاچاهي شوه دا به مو ګز وي

وايي کله چې حبيب الله ( بچه سقآ ) دغازي امان الله خان په ضد جګړې پيل کړې ، د هيواد په شمال کې يې يو شمير ځايونه ونيول ، دوى ويل چې امان الله خان کافر دى ، موږ د اسلام لپاره جنګيږو ، ځينو کسانو ددوى په خبرو باور وکړ او ددوى ملاتړ يې وکړ ، دوى هم سوکه سوکه يوه يوه سيمه نيوله او کابل ته نږدې شول.
يوه ورځ د سقاو د ډلې يو ټوپکوال په چاريکارو کې يوه دوکان ته ورغى ، دوکاندار ته يې وويل چې ما ته يو ګز(متر ) رخت راکړه چې بيرغ ترې وتړم. دوکاندار له ډاره درخت بشپړ تان ورته راواخيست ، ورته ويې ويل چې ته پخپله کچ کړه او يو ګز درواخله. سقاوي ټول تان تر خپلې اوږدې لکړې تاو کړ او روان شو.

دکاندار ورته وویل: صاحبه ستا خو یو ګز رخت په کار و ، اوس خو دې ټول تان در سره یوړ.
سقاوي ورته وویل:
که زموږ پا چاهي شوه دا به مو ګز وي

## تلوار د شیطان کار دی

په پخوا زمانو د یوه سړي میرمن مړه شوې وه ، یو کوچنی زوی ورپاتې و. دغه سړي په کو ر کز یو ډیر وفادار سپی درلود ، کله به چې چیرته ، ته نو خپل زوی به د سپي په تمه پریښود او سپي به دهغه د زوی ساتنه کوله.
وایي یوه ورځ چې دا سړی په مزدورۍ پسې ووت ، دتل په شان یې زوی په کور کې سپي ته پریښود . یو لیوه یې کورته راغی ، سپي له لیوه سره ډیر جنګ وکړ ، په پای کې یې لیوه مړ کړ ، خو سپی هم ډیر ژوبل شو .
مازدیګر چې کله دکور ښتن راغی ګوري چې د سپي خوله په وینو سره ده ، سړي فکر وکړ چې سپي یې زوی خوړلی دی تبر یې را واخیست او په ډیر تلوار یې سپی وواژه ، چې کوټې ته ننووت ګوري چې زوی یې روغ دی او لیوه مردار پروت دی ، سړی پوه شو چې د سپي خوله دده دزوی په وینو نه بلکې دلیوه په

وینو سره وه او په تلوار کې یې لویه غلطي وکړه چې خپل وفادار سپی یې وواژه ، له هغه راهیسې دا متل شوی چې :
تلوار د شیطان کار دی

## چې مشر یې قمبر وي

## اختر یې مازدیګر وي

وایي په یوه لیرې پرته سیمه کې پښتانه او هزاره ګان په یوه کلي کې اوسیدل ، پښتانه د ملک یا د کلي د مشر د ټاکلو په سر نه سره جوړیدل ،هر یوه ځان مشر باله اخیر یې فیصله وکړه چې تر منځ یو هزاره د خپل کلي مشر وټاکي. نو د قمبر په نا مه یې یو بې تجربې هزاره خپل مشر وټاکه ، ټولو به د هغه اطاعت کاوو ، یو کار یې هم د هغه له خوښې پرته سرته نه رساوو ، روژه راغله ورپسې اختر راغی خو قمبر علي وویل چې نن اختر نشته سبا به تول په یوه اتفاق اختر کوو ، هغه وخت رادیو ګانې او د خبر تیا نور اسانه وسایل نه ول او دا کلی هم د غرونو منځ کې له ښار او نورو کلیو لیرې پروت و ، روژه پوره وه خو قمبر علي د خپل اعتبار د پخوولو لپاره لا اختر نه و کړی.
ځو کسه کلیوال نورو سیمو ته ولاړل ، چې وګوری په نورو ځایونو کې اختر دی که نه؟ دوی ولیدل چې په ښار او کلیو کې داختر ورځ ده ، نو بیرته په تلوار خپل کلي ته راغلل ، مازدیګر مهال کلي ته را

ورسیدل او په خلکو یې داختر زیری وکړ ، خلکو په مازدیګر کې اختر جوړ کړ ، یوه سپین ږیري چې دمخه د دغه کلي مشر و ، وویل:

چې مشر یې قمبر وي

اختـــــر یې مازدیګـــــــروي

دا متل له هغې ورځې وروسته مشهور شوی دی.

## وسله کومه وسله ؟

## هغه چې په لاس درغله

اکبر پاچا د بیر بل په نامه یو ډیر پوه هوښیار وزیر درلود چې دخپلې هوښیارۍ له کبله پر پاچا هم ګران و ، اکبر پاچا ټولې مشورې له ده سره کولې .

بیر بل ډیر حاضر ځوابه سړی و که به پاچا ترې کومه پوښتنه وکړه بې له ځنډه به سم ځواب ورکاوو .

یوه ورځ اکبر پاچا دده دهوښیارۍ امتحان اخیست ، پوښتنه یې ترې وکړه چې:

وسله کومه ښه وسله ده؟

ده ورته وویل: پاچا صاحب تر ټولو ښه وسله هغه ده چې په لاس درشي.

پاچا چې پخپله پاچاهي کې رنګارنګ او دخپل وخت پرمختللې وسلې لرلې او بیربل دده دپاچاهي د کومې وسیلې نوم وا نه خیست ډیر په غوصه شو ، امر یې وکړ: چې د خپلې پاچاهي مست او خونړی فیل پرې را خوشی کړي چې ورته معلومه شي تر ټولو کومه وسله ښه ده؟

کله یې چې په لوب میدان کې فیل ورپسې را خوشی کړ له بیربل سره هیڅ وسله نه وه ، چې دځان دفاع پرې وکړي. فیل په ډیر قهر دده په لوري را منډه کوه ، بیربل شاوخوا وکتل یو کوچنی کونګری(کوتری ) هلته پروت و ، هغه یې را واخیست او فیل یې پرې وویشت ، کونګری د فیل په خړتم پورې ونښت او کوکارې یې پیل کړې ، فیل سخت وډار شو بلې خواته یې منډې کړې او بیربل ترې خلاص شو.

اکبر پاچا یې له پاسه سیل کاوو چې دا حال یې ولید ، ویې منله چې بیربل رښتیا وایي. رښتیا هم ښه وسله هغه ده چې په سخته کې په لاس در شي ، دبیربل هوښیارتیا یې وستایله او دده درجه تر نو رو وزیرانو نوره هم لوړه کړه.

# خدای یې کوي ، خو شولې اوبه غواړي

یوه ساده سړي د ملا له خولې اوریدلي ول ،چې ټول کارونه الله (ج) کوي ، بنده هیڅ نه شي کولای ، خدای پاک هرڅه کولای شي.
دا ساده سړی کورته راغی له ځان سره یې پریکړه وکړه چې دا ځل د للمي غنمو پر ځای د پسرلي بارانونو ته شولې(وریجې) وکري.
په سبا دغره لمنو ته ولاړ ، په وتره ځمکه یې شولې وشیندلې او ترې ولاړ.
د وریجو درسد په وخت کې د شولو کروندې ته ورغی ګوري چې وچ ډاګ دی ، شولې نه دې را شنې شوې ،په لار کې کیناست ، په ژړا یې پیل وکړ او ملا ته یې سپکې سپورې ویلې یو سړی راغی پوښتنه یې ترې وکړه ، ساده سړي ټوله کیسه ورته تیره کړه ، لاروي ورته وویل:
خدای یې کوي ، خو شولې اوبه غواړي

تا دې خدای راته جوړ کړي ،موږ دې غله یو
وایې یو وخت یو شتمن سړی و ، ده ډېر جایداد او پیسې لرلې خو دخپل کور امنیت یې هم ډېر ښه نیولی و ، غلو نه شوای کولای چې له ده څخه غلا وکړي تل یې څاره خو دغلا بهانه نه ورته جوړېدله.
دورځو نه یوه ورځ دا شتمن سړی بازار ته ولاړ غله هم پټ پسې روان شول چې بازار ته نږدې شو غلو ونیو یوه غله له بازاره چېرکټ راووړ ،شتمن سړی یې په چپر کټ کې ټینګ وتاړه ، ټولې پیسې یې ترې واخیستې ، کټ یې په اوږو واخیست او روان شول ، سړي چیغې وهلې: او خلکو دخدای لپاره دا غله دي ، زه لوټ کړم مه یې پرېږدئ.
غلو به پخپل منځ کې سره وخندل ، بیا به یې سړی ته دجار قربا ن وبلو تر څنګ ویل:
موږ دې هم غله یو خو تا دې خدای را جوړ کړي.
په دې خبرو سره یې نورو ته داسې ښودله چې دا یې ورور دی او لیونی شوی دوی نه پیژني ، دوی یې دتداوي لپاره روغتون ته په کټ کې وړي.
سړي به چې هر څومره نارې سورې وکړې غلو به جار قربان ورته وایه او دابه یې ویل چې تا دې خدای جوړ کړي موږ دې هم غله یو .
سړی یې همداسې تړلی پرېښود دوی ترې ولاړل.

وروسته له دې پيښې دا متل وشو چې:
تا دې خداى را جوړ كړي ،موږدې هم غله يو

## انسان په همنشيني معلوميږي خر په ناني

نانى د غزني ولايت يو اړوند كلى دى  دا كلى پخوا داندړو ولسوالي مربوط و ، پخوا په ټوله سيمه كې يوازې په همدې كلي كې ژرنده وه ، خلكو به له ډيرو لرې ځايونو دغې ژرندې ته دخرو په وسيله غنم داوړه كولو لپاره وړل خرو به ډير مزل واهه تر څو دې ژرندې ته ورسيږي. زياتره وخت به خره له كاره لويدل او بار به تر ژرندې نه  شواى رسولاى ، يوه نيم خر به چې ډير پياوړى و ،خپل بار تر ژرندې رسولاى شواى ، نو هغه وخت به چې چا غوښتل چې نوى خر راونيسي يوځل به يې تر ناني پورې بار ورباندې ووړ. كه به بار بې له كوم تكليفه په يوه ساه تر ناني ورساوو نو معلومه به شوه چې دا خر ښه خر دى او دا هم معلومه ده چې هر انسان تر څو چې له چا سره په يوه ګاونډ كې ژوند ونه كړي او ټول خويونه يې سړي ته له نږدې څرګند نه شي سړى باور نه شي ورباندې كولاى ، دغه متل ځكه وشو چې:
خر په ناني معلوميږي او انسان په همنشيني

# یو با م او دوه هوا

دا متل په دري کې داسې دی:

قربان شوم خدا را ،یک بام ودو هوا را

کیسه یې داسې ده وایي چې یو وخت دیوې کورنۍ غړي په بام ویده کیدل د یوې ښځې زوی او نږور یوې خوا ته او لور او زوم یې بلې خو اته ځملاستل ، دې ښځې زوی او نږور ته ویل چې لیرې لیرې پریوزئ چې هوا ډیره توده ګرمي به مو وشي اوبیا لور او زوم ته ورغله ورته و یې ویل چې ښه سره نږدې شي چې نن شپه هوا ډیره سړه ده هسې نه چې یخني مو وشي او ناروغ شي. زوی یې له هغې خوا سر را پورته کړ مور ته یې وویل:

قربان شوم خدا را ، یک بام ودو هوا را

له هغه وروسته دا متل وشو .

اوبه چې شي تر غاړې

زوی او لور شي تر پښو لاندې

روایتونه وایي د نوح (ع) دتوفان په وخت کې یو سړی له توفا ن څخه دخلاصون لپاره له خپل زوی او لور سره د یوه لوړ غره سر ته وختل خو هلته هم اوبه ور ورسیدې سړي لور او زوی را واخیستل او دیوې بلې ځګې څوکې سرته وختل خو هلته هم اوبه ور ورسیدې چې اوبه ډیرې شوې او دده تر غاړې ورسیدې نو

دځان دخلاصون په خاطر يې زوی هم تر خپلو پښو لاندې واچاوو خو اوبه نورې هم ډيرې شوې او بيا دسړي تر غاړې ورسيدې سړي دځان ژغورلو لپاره خپله ګرانه لور هم تر خپلو پښو لاندې واچوله خو توفان و ، اوبه نورې هم ډيرې شوې او سړی له اولادونو سره يوځای غرق شو.
دې ته ورته زما دسترګو ليدلي حال يوه کيسه ده:
په ۱۳۷۷ لمريز کال کې چې ما په بي بي سي راډيو کې کار کاوو ، د بی بي سي دفتر هغه وخت په پيښاور کې و او زما کور په کابل کې و ، کله کله به دتورخم لاره بنديدله او موږ به له نورو لارو لکه څڅوبي او ... په لارو پيښاور ته په ډيرو ستونزو تللو.
يوځل په همداسې خطرناکه لاره ور برابر شوو ، په غرونو کې مو سختې اوخطرناکې لارې په پښو ووهلې ، ها خوا مو يو پايکي موټر کرايه کړ چې د پښتونخوا په لوړو غرونو مو واړوي ، موټر په ډيره خطرناکه لاره دغرونو په ډډو او دغره په سر لاره لنډوله ، با الاخره دغره پر سر يوه ډير خطرناک پيچومي ته ورسيدو ،له موږ سره په موټر کې ډير کسان ول په دې کسانو کې له يوه سره خپلې دوه کوچنۍ د ۸ـ ۱۰ کلنو په شاوخوا کې لوراني هم وې چې ده په ټوله لاره کې ډير کړاو ورسره ګاله ، موټر د پيچومي سرته وخوت خو بيرته دشا په خوا را خوشی شو ، بريکانو يې کار پرينښود ، موټر دغره له سره دراپريوتو په حال کې و ، نور دژوند هيله نه وه پاتې ، څو کسو ځا نونه له موټره وغورځول. ددوو وړو نجونو پلار هم خپلې لوڼې

پریښودې او خپله له یې له موټره ټوپ کړل ، ما دا یوه کوچنۍ نجلۍ تر لاس را ونیوه چې راسره وایې چوم خو را باندې ناوخته شوي ول .

موټر د غره له سره د لویدو په حال کې و او دلوی پیچومي اخیري برخې ته رسیدلی و ، بس د خدای فضل وشو موټر په همدې وروستۍ ځوکه داسې ودریده لکه څوک چې یې په لاس ټینګ تکیه کړي . هغه سړی هم بیرته موټر ته را پورته شو او خپلې کوچنۍ لوڼې یې ښکل کړې له سترګو یې دخوښۍ اوښکې روانې وې ټولو پورې خندل او ماته دا متل را یاد شو :

اوبه چې شي تر غاړې

زوی لور شي تر پښو لاندې

## خدای چارې په مدار کړي

## بنده نه دی چې تلوار کړي

وایي یو وخت یوه خان پخپلو یتیمو تربورونو ډیر ظلم کاوو ، ددوی پلار هم ده وژلی و ، خو په حکومت کې یې رشوت تیر کړی و او دهغه دمرګ پړه یې د وژل شوي پر ورور وراچولې وه ،یعني یو ورور ووژل شو او دابل دهغه دمرګ په تور بندي شو ددغه کور ټولو غړو ته ټول حال معلوم و خو څه یې نه شوای ویلای ددغو دداړو ورونو زامن او کورونه دغه ظالم ته ور پاتې شول ، دیتیمانو آواز هیچا نه اوریده ، ددوی انا

چې مشره او تجربه کاره میرمن وه ډیره ډاډه وه ، چې ظالم ته به خدای پخپله جزا ورکړي خو دکورنۍ نورو غړو به بې صبري کوله ، انا به یې ډاډ ورکاوو کلونه تیر شول ټولې کورنۍ به انا ته ویل خدای به دې ظالم ته څه وخت سزا ورکوي انا به یې ویل تاسې صبې وکړئ خدای کارونه په کرار کوي بنده خونه دی چې تلوار کوي.

ډیر کلونه نور هم تیر شول یوه ورځ دغه ظالم سړي له خپل ورور سره جنګ وکړ خپل ورور یې وواژه او دی بندي شو په همدې وخت کې خلکو پرې شاهدي وویله چې دغه سړي دمخه هم دا بل سړی وژلی و ، دا ظالم سړی په عمري بند محکوم شو اولادونه یې ددا نورو یتیمانو غوندې بې سرپرسته او خوارو زار پاتې شول

له هغه وروسته دامتل وشو چې:

خدای چارې په مدار کړي ، بنده نه دی چې تلوار کړي

# دخره څښتن ته ور پيښه ده

ويل کيږي د چا خر له بار سره په خټو کې لويدلی و او په وياله کې بند پاتې و ، دخره څښتن چې هرڅومره زور وواهه ويې نه شوای کولای چې خر له خټو وباسي له يو بل لاروي يې مرسته وغوښته ، لاروی راغی خريې تر غوږو ونيو خو دزړه زور يې نه کاوو په دې منځ کې ډير وخت تير شو ، شپه را نږدې وه ، دخره خاوند وليدل چې لاروی هسې لګيا دی دزړه له اخلاصه مرسته نه کوي نو ورته ويې ويل:

وروره کور دې ودان ورځه ورځه چې په تا ناوخته کيږي دخره څښتن ته هسې هم ور پيښه ده.يعني چې ما ته خورا پيښه ده مجبور يم خپل کار به کوم.

پکه چا په ورا نه پريښوده، دې دسر کجاوې غوښتې

په زياترو کليوالو سيمو کې داسز رواج دی چې دناوې دراوړلو لپاره لومړی درې ورځې يا هم يوه ورځ دمخه خيښې دزوم له کوره دناوې کورته ځي او بيا دواده په ورځ ورا دناوې د راوستلو لپاره ځي اوبيا ناوې راوړي.

پخوا به يې ناوې په ډولۍ او کجاوو کې راوړه.

وايي په يوه واده کې يو پکه نجلۍ وه دا تر نورو مغروره هم وه نو ويل يې چې زه له نوري ورا سره نه ځم ، زه له ناوې سره يوځای د مخې په ډولۍ کې کينم ، چا ورته وويل اوس هم خوشحاله اوسه چې موږ دې له ورا سره پريږدو ته لا خوشحاله نه يې او دسر کجاوې غواړې.

له هغه وروسته دا متل وشو .

دې ته نږدې بل متل هم شته وايي:

پکې ورا دې راغله،دې ويل ګومان مې نه شي

## ړنګه شې درې نر دې پښ ، ښځې تيرې

وايي يو وخت د يوه کلي خواته يوې درې ته له بلې سيمې کډې راغلې ، دا خلک په دره کې ميشت شول په دوى کې رواج و چې دباندې ټول کارونه ښځې سرته ورسوي .

نار ينه به يې په کورونو کې ناست ول ښځو به خواري مزدوري کولې ،که به يې له بل کلي او قبيلې سره جګړه هم پيښه شوه نارينه به په کورونو کې ناست ول ، ښځو به جنګ کاوو .

يوه ورځ يې له بل کلي سره جنګ شو ددغې درې ښځو سختې جګړې ورسره وکړې او دبل کلي ډير کسان يې مړه او ټپيان کړل. وروسته له هغه دا متل وشو چې:

ړنګه شې درې

نر دې پښ ښځې تيرې

Download from:aghalibrary.com